سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۰/۰۷/۲۳م

# د امریکا او پاکستان ترمنځ د ترهګرو پر سر ناندری

د امریکا بهرنیو چارو وزیری مېرمن هیلري کلنټن د جولای په ۱۹ مه پخوا له دې چې د افغانستان پلازمېنې کابل ته راشي او د کابل په نړیوال کنفرانس کې برخه واخلي، پاکستان کې د پي ټي وي دولتي تلویزیون سره په خبرو کې ویلي و: زه باور لرم، چې بن لادن په پاکستان کې پټ دی او دا به ډېر ښه خبر وي چې ونیول شي.
همدارنګه د می میاشتي په پای کې د امریکا د مرکزي استخباراتو لوی رېیس لیون بانیتا هم ویلي و، چې بن لادن پاکستان کې د خوندي استوګنځای څخه برخمن دی.
یوازې څو ورځې مخکې د ناټو لوی ویاند جنرال بلاتز ویلي و « زموږ له استخباراتي مالوماتو سره سم په ډاډ سره ویلی شم چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر په پاکستان کې پټ دی.»
خو د چارشنبه په ورځ د جولای په ۲۱ مه د پاکستان لومړي وزیر سید یوسف رضا ګیلاني په یوه خبري کنفرانس کې وویل : د القاعده مشر بن لادین او د طالبانو د ډلې مشر ملا عمر پاکستان کې نشته او دا په حقیقت کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیرې هیلري کلنټن د خبرو په اړه د پاکستاني چاراوکو چټک غبرګون وو.
دا لومړی ځل نه دی چې پاکستاني لوړپوړي چارواکي په پاکستان کې د ترهګرو د ځالو او مشرانو په شتون منکرېږي او د نړیوالو په سترګو کې له جامو سره یوځای ورننوځي .
د پاکستان ای ایس ای چې د امریکا استخباراتو لکه خپلې لورغوندې روزلي او پاللي اوس غواړي هر څه د خپل استاد CIA څخه هم پټ کړي !
ښاغلی رضاګیلاني باید وپوهیږي چې د پاکستان ځینو نورو لوړ پوړو چارواکو هم کله ناکله په شعوري او یا ناشعوري ډول، په پاکستان کې د القاعده، طالبانو او نورو ترهګرو ډلو او مشرانو په شتون اعتراف کړي او دا هغه څه دي چې ... په پلټنې وهلو نه پټیږي ! (۱)
د روان عیسوي کال د جولای په درېیمه د پاکستان د مسلم لیګ (ن) ګروپ مشرنوازشریف په لاهور کې د خبریالانو یوې غونډې ته په وینا کې ویلي وو :« ترهګري د پاکستان له بهرنی پالیسی او ملي سیاست سره نېغ په نېغه ارتباط لري او دا تګلاري په اسلام اباد کې جوړیږي »
د روان کال د جولای په ۱۶ مه د پاکستان د دوزخي سازمان ای ایس ای پخواني مشر متقاعد جنرال حمیدګل د یوه پاکستاني خصوصي تلویزیون ای ار وای سره په مرکه کې وایي: پاکستان پلوه وسلوال طالبان بریالي دي او راتلونکی حکومت به په افغانستان کې د دوی وي چې د پاکستان خواخوږي دي!
پروسږکال په جولای کې د پاکستان د پوځ ویندوی جنرال اطهرعباس ، یو امریکایي تلویزیون سره خپله یوه مرکه کې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر، د اسلامي ګوند د مشر ګل بدین، ملا جلال الدین حقاني او ملا نذیر سره د پاکستان د پوځ له اړیکو څخه پرده پورته کړي او په ډاګه یې اعتراف کړي و چې داسې اړیکې شتون لري.
په همدې کال یوه بل پرمختګ کې نیویارک ټایمز لیکي و: «د امریکی مرستیال ولسمشر جوبایډن ویلي دي چې د القاعده مهم ځایونه په پاکستان کې دي نو ځکه زموږ په لومړیتوب کې پاکستان راځي».
د پورته خبرو په ځواب کې پاکستاني مقاماتو او رسنیو ډېر ژر غبرګون ښودلی و. دوی بیله ځنډه وویل چې بن لادین د افغانستان په غزني کې پټ دی. چې روسته دا خبر هم په ډېره بیړه د امریکي د دفاع وزیر رابرټ ګیس لخوا رد شوی وه.
د پاکستاني رسنیو د خبر له مخې د پاکستان یو بل متقاعد جنرال اسلم بیګ د امریکي د نوې ستراتیژۍ او افغانستان ته د دېرش زرو سرتیرو د استولو په تړاو ویلي و: « شوروی در ۱۹۸۵، شش تیپ از کماندوهای زبده و بسیار حرفه ای خود را برای پیروزی در افغانستان به کابل اعزام کرد، اما ظرف یکسال مسکو رسماً از دولت اسلام آباد درخواست نمود تا راه خروج به آنها داده شود و ما برای دور ساختن این ننګ روسیه از مجاهدین خواستیم تا راه بازګشت را به آنها بدهند».
دلته هم پاکستانی جنرال د جهاد په مهال یوازې د پنجاب په مټ خبري کوي او لاپې وهي ، شورویانو ته د بیرته وتونلار دده په ګومان پنجاب چمتو کړه نه بل چا. نوموړی پخپلو خبرو کې وړاندې ځي او وایي : « هیلاری کلینتون وزیر خارجه آمریکا مبنی بر اینکه القاعده در مناطق قبایلی دولت تشکیل داده است آنرا ادعای محض خواند و افزود: هیچګونه اردوګاه و یا پایګاه تروریستی القاعده در مناطق قبایلی، سوات، باجور، دیر و وزیرستان وجود ندارد و اصلاً امکان پذیر نیست.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وی گفت: اظهارات کلینتون در واقع موضع اوباما، گوردن براون و مان موهان سینگ و اشاره ای خطرناک برای پاکستان است. دولت باید با جرات و قاطعانه به آن پاسخ داده برای قطع اینگونه اتهامات هشدار دهد و اگر ندهد نیروهای مسلح این اخطار را خواهند داد که آمریکا، انگلیس و هند به عقل آیند و هرگونه حمله به پاکستان به شکست انجامیده و پشیمانی را همراه خواهد بود».
دا چي افغانانو د خپل هيواد په کورنيو چارو کې د ترهګرو تر نوم لاندې د پاکستان په يرغل په وارو وارو اعتراض کړی ، هغه پاکستان بيخي په هيڅ شميرلي . پوازې د کابل کنفرانس په درشل کې د هېواد امنيتي چارواکو درې ترهګري ډلي چې په پاکستان کې يې روزنه ليدلي، ونيولي . همدارنګه د کشمير پر سر د هند نيوکې هم د پاکستان په سترګو کې څه نه ښکاري ! همدا نن په کشمير کې د هند د امنيتي چارو پازوال، د پاکستان په ملاتړ او ننګه د ترهګرو يرغل وغنده.
له دې ټولو سربېره نن، پاکستان د ترهګرو سره په مينه او يارانه کې د خپل پير استاد امريکې خبرې او نيوکې هم په ملنډو اخلي او په ګوابنونو يې بدرګه کوي.

د کارغه سترګې له بازه نه شرميږي او ګيدړ کړي پر زمري باندې ګوابنونه
اروابناد ملنګ جان

په دې توګه د پيښو کرونولوژي ښيي، د پاکستان ټول واکمنان که هغه ملکي، پوځي، متقاعد او يا برحال دي له القاعده، طالبانو او نورو ترهګرو څخه په ننګه او ملاتړ کې شريک دي.
پاکستان چي د ترهګرو مرکز دی ، په ترهګری ژوندی دی او که د ترهګرو ملاتړ ور سره نه وي پاکستان به د نړۍ پر نښچه شتون ونلري !
ځيني څرګندوني :
(۱) : پس له تيزه پلتی وهل يو عاميانه اصطلاح ده، په دې مانا هغه څه چې د ولس په منځ کې رسوا شي او ټول خلک پرې خبر شي، د هغې د پټولو هڅه ناشوني ده.

پای

اخځونه :
ـ افغان جرمن انلاين او روهي بريښناپاڼي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ